مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۴/۰۵

# «د استبدادي واکمنۍ ماهيت ډار دى.»

دا ډار لکه دوه‌تېغه چاړه دوه اړخونه لري:

۱ ــ واکمن، چې د خپلې واکمنۍ لپاره بل استدلال نه لري، خلک ډاروي او د دغه ډار په مټ يې اطاعت ته اړ باسي. ظلم، ولږه، وهل، ربړول، وژل، په تياره کې ساتل او نورې اختناقي کړنې د دغه ډار وسايل دي.

۲ ــ په خپله واکمن هم تل له خلکو څخه په ډار کې وي، د ښځو له تعليم، د خلکو د ذهنونو له روښانتيا، د ځوانانو د پوهاوي او اقتصادي پرمختګ څخه ځکه ويرېږي، چې داسې خوځښتونه په خلکو کې هغه ډار له منځه وړي، يا يې کمزورى کوي، چې واکمن يې په مرسته واک چلوي.

مونتسکيو په خپل تلپاتي اثر (روح‌القوانين) کې دوه ځايه داسې ليکي:

«په استبدادي حکومت کې وېره بنسټي شرط دى»
[نهم فصل: د استبدادي حکومت اصول]

«په استبدادي حکومتونو کې قانون‌ساتونکي نه شته، ځکه هلته اساسي قانون نه شته. په استبدادي حکومتونو کې مذهب ډېر ځواک لري. دلته مذهبي ائين په خپله د واکساتنې ځواک جوړوي.»

[ځلورم فصل: د مشروطه حکومت له طبيعت سره د قوانينو اړيکې]

دغه دوه‌اړخيزه وېره هغه وخت راکمېږي او يا بيخي له منځه ځي، چې ملت او حاکميت دواړه د يوه ټولنيز قرارداد (اساسي قانون) په منځګړتيا يو پر بل باور وکړي. دا ټولنيز تړون بايد د يوې حقوقي پروسې په پايله کې د دواړو لوريو په خوښه جوړ شوى وي.

---

يادونه:

روح‌القوانين، د فرانسې د روښانتيايي پړاو د متفکر؛ شارل- لوئى بارون مونتسکيو کتاب دى، چې ټولنپوهنه، سياست، حقوق، فرهنګ، تاريخ او اقتصاد يې بنسټي بحثونه دي. دا کتاب لومړى ځل په ۱۷۴۸ ز. کې (يو کال د احمدشاه بابا تر واک ته رسېدا روسته) خپور شوى دى.

امريکا، فرانسې او ګڼو نورو هېوادونو د خپلو اساسي قوانينو د کښلو پرمهال دغه کتاب بنسټ ټاکلى. هغه پېغلې او ځوانان، چې له يادو پوهنو سره مينه لري، ښايي خامخا دغه کتاب ولولي.

خاطره:

څو ورځې مخکې له يوه فاضل دوست سره په تيليفوني خبرو کې د مونتسکيو دغې خبرې ته اشاره وشوه، چې د دې ليکنې انګېزه يې رامنځته کړه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ